# دمې اوولسمه17

**د ناروې ملي ورځ**

دمې اوولسمه د ناروې ملي ورځ ده. موږ لمانځو چې ناروې د مې په 17 ، 1814عیسوی کال کې خپل اساسي قانون تدوین کړ. له 1814عیسوی کال څخه مخکې ، ناروې څلور سوه کاله د دنمارک د هیواد یوه برخه وه. هغه وخت د ډنمارک پاچا وو چې دغه هیواد یئ اداره کوو او ناروې مکلف وو له هغه قوانینو او مقرراتو څخه چې په ډنمارک کې تصویب او توشیح شوې وه اطاعت وکړي. په 1814عیسوی کال په اروپاه کی ډیر بدلون راغلې وو ناروېژیان هیله درلوده چې د خپلو قوانینوسره ځانته یوخپلواک او مستقل دولت جوړ کړي .

**اساسي قانون په ایډسول کې جوړ او توشیح شو**

په 1814عیسوی کال کې، 112 نارینه د ناروې اساسي قانون لیکلو لپاره په ایډسول کې راټول شوي وو. په دغه غونډه کې خلک له بیلابیلو ځایونو څخه راغلي وه. دا ډله له نارینه ناروېژیانوڅخه جوړه شوې وو چې ملي شورا نومېده او دوی شپږ اونۍ د اساسي قانون په لیکلو کې تیر کړل. د مې په 17، اساسي قانون جوړ او د پاچا کریستیان فریډریک له خوا توشیح کړای شو. او له همدې امله دا هغه ورځ ده چې د ناروې ملي ورځ نومیږي.



*Maleriet heter Eidsvold 1814 og er malt av Oscar Wergeland. Kilde: Wikipedia*

**د می 17 د ملي بیرغ ورځ ده**

د مۍ 17 د ښوونځیو زده کوونکو او ډیری لویانو لپاره رخصتي ده. د بیرغ رسمي ورځ ، پدې معنی ده چې هغه ټولې ودانۍ چې د دولت یا ښاروالۍ ملکیت دي باید په دې ورځ بیرغ پورته کړي. ډیری ملکی خلک هم د می په 17 نیټه

بیرغ پورته کوي. په 1821عیسوی کال کې د ناروې ملی بیرغ وټاکل شو. دا بیرغ د آزادی رنګونو نه جوړ شوی: سره ، سپین او نیلي. صلیب سمبول نښه ده چې ناروې باید یو مسیحي هیواد وي.



Norske flagg, Foto: Vegard Ottervik på Pixabay



Det norske slottet. Foto: GK von Skodderheim Pixabay

## د پارټي جامې

داسې رواج دي چې په ملی ورځ ناروېژیان خپلې ښکلې جامې اغوندي.  په دغه ورځ ناروېژیان خپلې ملي جامې یا نور ملي جامې هم اغوندي. د می په 17 په ښوونځیو ، پارکونو، د ښارونو په مرکزونو کې غونډې ترسره کېږي او خلک ویناوې کوی .

## د ماشومانو مارش



Barnetoget i Oslo foran slottet. Kan du se kongefamilien på balkongen?
Foto: Wikimedia, Morten Johnsen





Blåruss og rødruss
Foto: Dimitri Valberg,

همدا رنګه د می 17 د ماشومانو ورځ هم ویل کیږي. په ټول هیواد کې، د ښوونځیو ماشومان مارش کوي ، بیرغونه رپوي ، خوشحالي کوي او سندرې وایي. د میوزیک بانډونه موسیقي غږوي. پدغه ورځ ډیرى خلک ملي سرود غږوي"هو ، موږ مینه لرو". ددغه ملي سرود متن(Bjørnson Bjørnstjerne )په کال1859 کې وویل. په کال1863 کې د هغه خوریي Nordraak Rikard دغه ملي سرود وغږوله او تنضیم کړه.

## د فراغت مراسم لمانځل

فارغين لمانځي چې دوی ليسې پای ته رسولې دي. د دوی څخه ځينې 13 کاله ښوونځي ته تللي. فارغين د فارغينو رسمی کالی اغوندي. په کاليو کې، دوی توش سره يو بل ته سلامونه ليکي. فارغين په می کې ډيری جشنونه لري. ډيری فارغين خپل شخصی موټرونه يا بسونه لري او دوی خپل موټرونه شاوخوا چلوي اوپه لوړ غږ موسيقی غږوي. ډيری د خپلو ښوونکو سره ټوکې هم کوي او د می د 17 سهار وختي دوی ويښوي. په ډيری ځايونو کې ، فارغين په جلا جلا ټوګه مارش او نڅا کوي ، سندرې وايی او کوميکه ډرامې ښيې.

## د شاهي کورنۍ

د ناروې پاچا هارالډ پاچا او ملکه سونيا ملکه نومېږي. پاچا او ملکه د مې د مياشتې اوولسمه د سلطنتي کورني سره د ماڼې (قصر)په برنده کې درېږي. او په اسلو کې راغلو ماشومانو ولوولو ته د هرکلي لاس خوځوي.

د ماشومانو مارش د اوسلو اصلي سړک په لور چې د کارل يوهانس سړک نومېږی ځي.

د خلکو مارشونه د ماڼې (قصر) له لارې تيرېږي او ټول ماشومان او ښوونکي شاهي کورنۍ ته لاس خوځوي. شاهي کورنۍ هم بيرته د هرکلي لاس خوځوي. په اوسلو کې تر سلو ډير ښوونځي په مارش کې برخه اخلي.



*Kongefamilien vinker til barnetoget i Oslo. Fra venstre: prinsesse Ingrid Alexandra, prins Sverre Magnus, kronprinsesse Mette Marit, kronprins Haakon, dronning Sonja og kong Harald*